د ښوونځي دوري معمول واکسینونه



د پیل عامې روغتیا اداره (Peel Public Health) هغو وړ زده کوونکو ته چې په 7م او پورته ټولګیو کې دي، په ښوونځي او ټولنیزو کلښیکونو کې منظم واکسین وړاندې کوي. په ورکول کېدونکو واکسینونو کې د **Meningococcal-C-ACYW-135 ، هیپاټایټس بي (هیپ بي)، او Human (HPV-9) Papillomavirus واکسین شامل دي.**

Meningococcal-C-ACYW-135 واکسین کول په اونټاریو کې د ښوونځي د ګډون لپاره ضروري دي. Hep B او HPV-9 واکسینونه د ښوونځي د ګډون لپاره اختیاري دي، خو زیاته سپارښتنه یې کېږي.

دا ټول واکسین د محصلینو لپاره وړیا دي. ځینې واکسینونه د محدود وخت لپاره د عامه بودیجې له لارې ورکول کېږي، او زده کوونکی کېدای شي یواځې تر یو ټاکلې عمر پورې مستحق وي. که زده کوونکي د اونټاریو د روغتیا کارت نه لري، نو بیا هم واکسین ترلاسه کولی شي. د رضایت لاسلیک شوي فورمې د واکسینونو ټولې لړۍ لپاره معتبر وي. رضایت هر وخت بیرته اخیستل کیدای شي.

د Meningococcal ناروغي

یوه ساري ناروغي ده چې عموماً د پنځو ښلاښلو ډلو د بکتریا له خوا رامنځته کېږي چې وینه یا د مغز او ملا تېر شاوخوا مایعات ککړوي. دا یوه نادره ناروغي ده، خو نښې یې ډېر ژر د ژوند لپاره خطرناکې کېدای شي. د دې ناروغۍ له امله رامنځته کېدونکي پیچلتیاوې کولی شي د مغز د زیان، دایمي اورښدلو له لاسه ورکول، دورو، د اندام پرېکولو یا مړینې سبب شي.



دا د یوه اخته کس د لارې یا بلغمو سره د مستقیم تماس له لارې خپرېږي، لکه د ښکلېدو، د ځښاک د شیانو، کاچوغو یا غاښ برش شریکولو له لارې.

د Meningococcal-C-ACYW-135 واکسین (Menactra®,Nimenrix® , Menveo™)د هغو څلورو ډلو بکتریاوو پر وړاندې خوندیتوب رامنځته کوي چې د ناروغۍ سبب ګرځي. دا واکسین خوندي دی او له 80% څخه تر 85% پورې مؤثریت لري.

په اونټاریو کې د ښوونځي د ګډون لپاره د واکسین یو دوز ضروري دی، نخو که زده کونکي ېو مناسب استثناء ولري نو ضروري نه دی. دغه واکسین ټولو نویو ځوانانو ته ضروري دي، حتی که هغوي په ماشوالي کې واکسین شوي هم وي.

هیاتیتس بي

یوه ډېر ساري وېروس دي چې ځیګر ته زیان رسوي او کولی شي د ځیګر ناروغي او د ځیګر سرطان رامنځته کړي. د دې هیڅ علاج نشته. ډېر خلک ښه کېږي، خو ځینې نور ېبا دا ویروس په خپل بدن کې لېږدوي او د ژوند تر پایه ورسره وي.

دا د یوه اخته کس د وینې یا د بدن د مایعاتو سره د مسقیم تماس له لارې خپرېږي، حتی که دغه کس ناروغ نه ښکاري یا ناروغي نه محسوسوي. دا له یک بار مصرف پاکیو، ستنو یا د غاښونو برس شریکولو، غیر خوندي جنسي اړیکو، او د او د خال وهلو او حمام ناسم پاک شوېووساېلو له لارې خپرېدای شي.

د هیاتیټس بي واکیسن Recombivax HB® یا Engerix®-B) خوندي دی او کله چې ټول دوزونه ورکړل شي، نو له 95% څخه زیات مؤثریت لري.

د کوم زده کوونکو چې عمرونه د 11 څخه تر 15 کلونو پورې وي، هغوی 2 دوزونو ته اړتیا لري، چې د 4 څخه تر 6 میاشتو په واټن ورکول کېږي. د کومو زده کوونکو چې معافیتي سیستم کمزوری وي، یا یې عمر 16 کالو یا زیات وي، هغوی دریم دوز ته هم اړتیا لري.

انساني پاپيلوما وايرس (HPV) يو ډېر عام وېروس دی چې کولای شي د خولې، سر او غاړې، رحم او تناسلي غړو سرطانونه رامنځته کړي. زياتره خلک خبر نه وي چې په دې ناروغۍ اخته دي او هېڅ نښې نه لري، نو له دې امله کولای شي دا وايرس له خبرتيا پرته نورو ته انتقالوي. د دې ناروغۍ لپاره هېڅ درملنه نشته، او که واکسين ونه کړل شي، نو اټکل کېږي چې له هر 4 جنسي فعالو کاناډايانو څخه به 3 په خپل ژوند کې په اېچ پي وي اخته شي.

دا د جنسي ځای د پوستکي له لارې يا د جنسي اړيکې پر مهال د پوستکي په تماس د لارس خپرېږي. د اېچ پي وي څخه د خوندیتوب تر ټولو غوره لاره دا ده چې د لومړي ځل جنسي اړيکې مخکې واکسين واخيستل شي.

(Gardasil®-9) **The HPV-9 vaccine** خوندي دی او کله چې ټول دوزونه ورکړل شي، نو له 95% څخه زيات مؤثريت لري. دا واکسين د وېروس له هغو اوو ډولونو باندې د اخته کېدو مخه نيسي چې کېدای شي سرطان رامنځته کړي، او همدارنګه هغو د دوو نورو ډولونو څخه هم ساتنه کوي چې د تناسلي زخو سبب کېږي.

له 15 کلونو څخه کم عمر زده کوونکي دوه دوزونو ته اړتيا لري چې د 6 مياشتو په واټن ورکول کيږي. د کومو زده کوونکو چې معافيتي سيستم کمزوری وي يا عمر يې 15 کاله يا زيات وي، دريم دوز ته اړتيا پيدا کيږي.

د واکسين (واکسينونو) ترلاسه کولو په ورځ به څه پېښيږي؟



له زده کوونکي څخه به د طبي تاريخچې لاندې پوښتنې وکړل شي:

- ايا زده کوونکی کومه جدي طبي ناروغي لري؟
- ايا زده کوونکی داسې طبي ناروغي لري چې د هغه معافيتي سيستم کمزوری کوي، او/يا داسې درمل استعمالوي چې معافيتي سيستم کمزوری کوي؟
- ايا زده کوونکی کوم معلومه الرژی يا حساسيت لري؟
- ايا زده کوونکي مخکې کله هم د واکسين په وړاندې شديد غبرګون ښودلی؟ (لکه: انفيلاکسيز، د پوستکي خارښت)؟
- ايا زده کوونکی کله هم د واکسين اخيستو پر مهال بې هوښه شوی؟ اکثره خلک له واکسين اخيستو وروسته هېڅ ستونزې سره نه مخ کيږي.

ځينې خلک کېدای شي د ستنې وهلو په ځای کې درد، سوروالی، پرسوب يا خارښت پيدا کړي.

ځينې وختونه ستړيا، سردرد، سر ګرځېدل، بې هوښي، د زړه بدوالی او لږه تبه هم رامنځته کېدای شي.

د خپل ډاکټر سره به کله اړيکه ونيسئ



- د واکسين اخيستو وروسته الرژيک او شديد غبرګونونه ډېر نادر وي، خو کېدای شي پکې د ساه لنډېدل، د مخ يا خولې پرسوب، لړمی، جټکې، يا له 40 درجې سانتي ګراد څخه لوړه تبه شامل وي.
- که تاسو د طبي بيړني حالت سره مخ شئ، نو 911 ته زنګ ووهئ.
- واکسين اړوند غبرګونونو په صورت کې، نو خپل ډاکټر او د پيل د عامې روغتيا اداري ته په 905-799-7700 شمېره خبر ورکړئ او که تاسو په کاليډن کې يئ، نو په 905-584-2216 شمېره اړيکه ونيسئ.

د لا زياتو معلوماتو لپاره، په آنلاين توګه د واکسينونو د معافيت د ريکارډ تازه کولو يا د فورمې يا چاپ کولو لپاره مهرباني وکړئ **peelregion.ca/immunize** ته لاړ شئ، يا د پيل عامې روغتيا د اداري سره په **905-799-7700** کاليډن 905-584-2216 اړيکه ونيسئ.

CDS-1369-01 25/02